ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار ۲۰۱۶/۰۹/۲۱

# د څناورو واکمني او يرغل خان

## دوهمه برخه

### (ټ) د انسانانو سره تجارتي اړيکي او د زيارکښو څناورو انـد يښني

بادي ژرنده د ستر لاربنود مـانـو صنعتي پروژه شـوه. دغي پروژې د څان سره څيني بدلونونه راوړل چي د زيارکښو څناورو سرونه پرې نه خلاصيدل. څيني څناور اندېښمن او يو څه نارام شول او له دې کبله يې له يوبل نه پوښتني پيل کړې: « ايا د محمد څرګند خان کاکا له شړلو نه وروسته، په لومړئ پرتمينه غونډه کې پريکړه ونه شوه چي څناور به د انسانانو سره هيڅ ډول اړيکي نه ټينګوي، تجارت به نه کوي او پيسي به نه استعمالوي؟» ددي سره سم، شډل چي خورا قوي اس و غاړه تازه کړه او په ځنګ کې له ناست بانګي نه يې هيله وکړه چي «ما هر سهار يوه ګينټه مخکي ويښوه، ځکه زه غواړم چي لا پسي سخت کار وکړم.» د ستر لاربنود مانو په پښو کې پراته سپي وغړيدل او مانو ته مخامخ پرتو ګډو(ميږو) هم د عادت سره سم رمباړې پيل کړې چي «څلور پښيځه ښه دي او دوه پښيځه بد دي!» ددې لپاره چي د نورو څناورو اندېښنه تم کړي، مانو ورته ډاډګيرنه وکړه چي: «تاسي بيخي بيغمه اوسئ. زه غواړم چي د انسانانو سره د راشي درشي دچارو ټول بار په خپلو اوږو واخلم او تاسي له دې ناوړه عمل نه وژغورم چي په انسانانو مو سترګې ولګي.» ستړي ستومانه څاروي بيا هم نه پوهيدل چي څه ښه دي او څه بد. د کار د فشار او د واکمنانو د تبنتيدلو له امله، له ډيرو څناورو نه ډير احکام هير شوي وو، او د شعور پرمختګ او ابتکار ته يې پاټکونه اچول شوي وو.

څناورو په ډيرو خواريو بادي ژرنده جوړه کړه. خو مخکي له دې چي په کار يې وغورځوي ، سخت ژمي او جاکړ له بيخه ړنګه کړه. ستر لاربنود خوګ مـانـو او دهغه ډنډورچي ارګجه به نور څناورو په دې بوختول چي شړل شوی خوګ شينا لوی غدار او د باد ي ژرندې د ړنګولو واقعي مسئول دی. د مـانو په امر د بادي ژرندې ودانول بيا پيل شول او څناورو به د شــډل (اس) له قـوت او د هــغه له دې چغړبې (شعار) نه چي « زه به لا پسي سخت کــارکــوم» ډير الهام اخيست. ارګجه د مانو په امر ټول څاروي داسي تلقينول چي د فارم داخلي غدارانو د بهرني غليمانو سره لاسونه يو کړي دي د دې لپاره چي د څناورو نظام او بادي ژرنده رانسکوره کړي. د فارم په څناورو کې بدګوماني زياتي شوې او دار ور ته ورځنۍ ژوند وګرځيده. د پخوانيو «انساني چټياتو» د مينځلو په پلمه، ډير څناور د غواو په څېر کې غرغره شول. له شډل نه وروسته، ټـاکو دوهمه درجه قوي اس و. د ټـاکو فکر د فـارم د اووه (۷) اصولو يا احکامو په تيره د شپږم (۶ )حکم په اکله چي «هيڅ څناور به بل څناور نه وژني» ډيـر ګډوډ شوی و. هغه له زوړ خر(سوډر) نه هيله وکړه چي که شپږم حکم ورته ولولي. خو زوړ سوډر چي د خوګانو د ممتازې ډلي په هر چل ول پوهيده، ديته يې پام و چي ارګجه د شپې له خوا د مـانو په ګټه د اووه (۷) احکامو په ډکون (متن) کي ګوتي وهي. ده د ټاکو هيله ونه منله او په خپل بغن اوز کې يې ورته يواځي دومره وويل چي « د خرو عُمـر ډيـر اوږد وي.» ټاکو نومي آس يوه شيبه وروسته چيلۍ(بزه) وليدله او له ورميږ نه يې ټينګه ونيوله چي شپږم حکم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

ورته ولولي. هغې ورته شپږم حکم داسې ولوست:« هیڅ څناور به بل څناور نه وژني، خو په علت سره.» د ټاکو په سر کې کړس راپیدا شو او چیلۍ یې اخوا ټیله کړه. له چیلۍ نه متیازې وځڅید لې او د سترګو په رپ کې تریتم شوه څناورو فکر کاوه چې شاید د دغه حکم وروستنۍ برخه به یې له یاده وتلې وي. د شپږم حکم په اوریدلو،د څناورو سرونه په دې خلاص شول چې ستر لاربښود ماښو دغه حکم نه دی مات کړی، بلکې په «علت» سره یې «غداران» غرغره کړي دي. د انسانانو سره د تجارتي اړیکیو په اوږدو کې، د څناورو په فارم کې داسې ګونګوسی پیل شو چې خوګان د محمد څرګند خان کاکا په پخواني کور کې اوسیږي او پخپله ماښو د شړل شوي څرګندخان کا کا په لوی کټ او پسته توشکه باندې بیدیږي. نارام او سرګردان ټاکو خپله لکۍ ګرندۍ ګرندۍ وخوځوله . یو څه وپرشیده، خپل شونډک یې د سوډر په شونډک ومښه او په غوږ کې وروپسیده چې څلورم حکم یانې په توشکه او کټ باندې د بیدیدلو فیصله یې نوکې په یاد ده. خو زاړه خره سوډر بیا ځان ړوند او کوڼ ونیوه. ټاکو بیا چیلۍ (بزه) له پښې راونیوله چې دا ځل ورته څلورم حکم ولولي. چیلۍ زر زر پچې وکړې او څلورم حکم یې ورته داسې ولوست: «هیڅ څناور به په توشکه نه بیدیږي چې څادر پرې غوړیدلی وي.» ټاکو چې نسبتاً قوي اس و، د «څادر» د ټکي په اوریدلو سره یې په مغزو کې شنګار پیل شو. چیلۍ یې له نرۍ ږیرې راونیوله او د هغه جګ سیرلي په پیړو ښکرو کې یې وروټومبله چې کوناټوره ږیره یې لرله. چیلۍ په خپلو کجو لینګو کړه وړه روانه شوه، سیرلی پرې وربرګ شو او په مرموز ډول یې د خپلې کوناټورې ږ یرې په خوځولو سره پوه کړه چې « نه کار، هلته څه کار!» چیلۍ د خپل ځان سره ګوریدله:« مجبوریت بد شی دی!» په دوړو کې لړلې چیلۍ په توبو توبو د سترګو په رپ کې خپل شپون ته وتښتیدله.

وروسته له دې ټاکو نوکې ارام شو او فکر یې وکړ چې شاید په توشکه باندې د څادر شرط به یې له یاده وتلی وي. ښایسته ښه شیبه وروسته، ارګجه چې ډ نډورچي خوګ و د دریو غټو سپیو سره غوجل ته راغی او د توشکې د څادر په موضوع یې نورو څناورو ته داسې رڼا واچوله: «که په غوجل کې پاسته وابښه پراته وي او په دغو وښو باندې څناور بیدیږي، نو دیته هم توشکه ویلی شو. توشکه نه، بلکې د توشکی څادر د انسان ایجاد دی، او ماته ښه په یاد دي چې څلورم حکم د توشکې په ضد نه، بلکې په توشکی باندې د څادر د خورولو په ضد شوی و. موږ خوګانو د دغه حکم د روحیې سره سم، له ټولو توشکو نه څادرونه لرې کړي دي.» سوډر به د دغې وینا په مهال، په خپله کینه سترګه د ټاکو نارامۍ ته کتل او په خپل ښې غوږ به یې د ارګجه وینا اورید له

بادي ژرنده د څناورو د پرلپسې زیار په برکت بیا جوړه شوه. ستر لاربښود خوګ، ماښو د بادي ژرندې په وینا کې نورو څناورو ته مبارکي ورکړه اوپه په خپل امر یې دغه ژرنده « د ماښو ژرنده» ونوموله. په فارم کې به چې هرڅه خراب شول، نو خوګانو او سپیو به دې ډنډورې ته زور ورکړ چې شړل شوی شینا ( د څناورو د فارم لومړی مشر) د انسانانو په ټولنه کې اوسیږي او په پټ ډول د فارم ټولو شتمنیو ته زیان اړوي. ماښو به تل د انسانانو په منځ کی له تجارتي سیالیو نه ګټه پورته کوله. کله به یې د یوه تا جر صفت کاوه او کله به یې د بل په صفتونو خپل شونډک شلاوه. یوه تاجر د خپلو نوکرانو سره غبرګ د څناورو په فارم برید وکړ. څناورو جګړه وګټله او انسانان یې تیښتې ته اړ کړل. خو ژرنده یې له بیخه ویجاړه شوه. په جګړه کې ډیر څناور مړه شول او شډل چې خورا قوي اس و سخت ټپی شو. د جګړې د ګټلو په مناسبت څناورو د خپل ستر لاربښود ماښو د مبارکۍ وینا واوریدله او پوره دوه ورځې یې د « ستر بري» جشن ونمانځه. د جشن په پای کې چیلۍ بزه د « اووه (۷) احکامو» دیوال ته مخامخ ودریده او ډیر ژر ورته څرګنده شوه چې څناور په یو بل حُکم هم «غلط» پوه شوي وو. هغوی پنځم حُکم داسې زده کړی و چې « هیڅ څناور به نشه نه کوي.» خو اوس دغه حُکم د ګودام په لوی دیوال داسې لیکل شوی و:« هیڅ څناور به له حده زیاته نشه نه کوي.» په «خپله» ټوله واکمنۍ کې، د څناورو رمې نه په خیټه مړې شوې او نه یې د دې چانس وموند چې خپل فکر ته وده ورکړي او دخپل زیار محصول په خپله تنظیم کړي. ددغې غټې نیمګړتیا د پوره کولو لپاره نوښتګرماښو یوه بله پروژه راووېستله.

## (ث) «د انقلاب د تکامل پړاو» اود وفامن شډل درملنه

د ستر بریالیتوب د پرتمیني نمانځنې په سبا، ستر لاربنود مانو نورو ځناوروو ته د بادي ژرندې د بیاجوړولو امر ورکړ. سره له دې چې قوي اس شډل د خپلې زخمي پښې سره په غټ کړاو اخته شوی و، نورو ځناورو ته به یې ویل چې «زه په ژوند کې یو ارمان لرم: مخکې له دې چې تقاعد واخلم، باید بادي ژرنده جوړه شوې ووینم.» یو څه وخت وروسته مانو پریکړه وکړه چې نورو ځناورو ته «د انقلاب د تکامل پړاو» اعلان کړي. هغه په کودام خونه کې را پنډ شوو ځناورو ته په ډېر ویاړ وویل چې: «اوس دځناورو فارم جمهوریت او ولسمشر ته اړتیا لري. زه نن دا فارم "دځناورو جمهوریت" ګڼم او ستاسې د خدمت لپاره ځان د ولسمشرۍ د یواځیني نوماند [کاندیدیت] په حیث اعلانوم.» خوګانو په سونګار او سپیو په غپا د مانو نوماند کېدل تائید کړل. نورځناور د رایو په ورکولو نه پوهېدل. په دغه راپېښېدنې کې مانو د رایو په اتفاق سره د ولسمشر په حیث غوره شو.

د زاړه اس شډل پخوانی زور اوبه شوی و او زخم یې هم نه جوړېده. ارګچه خوګ د خپل ستر لاربنود مانو اندېښنه نورو ځناورو ته څرګنده کړه: «زموږ زړه سواندي مشر مانو پرېکړه کړې ده چې خپل وفامن خدمتګار شډل د ګرندۍ درملنې لپاره د انسانانو یو روغتون ته ولېږي.» د ځناورو د جمهوریت په ګاونډ کې، «زرغون ښار» د انسانانو یوه پرمختللې تولنه وه چې د ځناورو د ولسمشر مانو تجارتي اړیکې ورسره ښې وې. له زرغون ښار نه یوه سرپټه ګاډۍ چې دوه غټو او چابکو اسونو راښکله د ځناورو جمهوریت ته رانونتله او د غوجل په خوا کې تم شوه . ګاډیوان راښکته شو، خولۍ یې په سر سمه کړه، بډې یې ووهلې، ملا یې کلکه وترله او د زاړه او زخمي اس په لټه کې شو. ګربیدلی شډل له غوجلي نه راووت او په ډېره سختۍ ګاډۍ ته وروخوت. په دغه سرپټه ګاډۍ لیکل شوي وو: « هلا کو: د اسونو قصاب ـ د پوټکو، هډوکو او غوښوغټ سوداګر ـ زرغون ښار». پخ ذهنه ځناورو د شډل سره مخه ښه وکړه. خو زوړ سوډر چې د شډل سره به یوځای څر یده ژړه غونې شو: زوړ او بډخوي خر سوډر په دې پوه و چې ساده او وفامن خدمتګار شډل د خپل ژوند په وروستني پړاو کې د زرغون ښار په لوی قصاب (هلاکو) خرڅ شو. ګاډیوان زر زر د هغې دره کلکه وترله. سوډر د خپل یار د درناوي لپاره په کراچۍ پسې روا ن شو. کراچۍ لا د ځنا ورو د فارم له پولې نه تېره شوې نه وه چې ناڅاپه پکې درب دروب پیل شو، د شډل زوېرګي غلي شول، او د سوډر له سترو سترګو نه ونښکې راروانې شوې یوه ورځ وروسته، ډېډورچي خوګ (ارګچه) په ژړه غوني اواز نور ځناور په دې خبر کړ ل چې شډل د زرغون ښار په روغتون کې مړ شو او زموږ زړه سواندي ولسمشر مانو خوګ له دې امله « ډېر خواشینی شوی دی». ارګچه په ډېر مکر سره په دې ټینګار وکړ چې له خد متګار شډل نه یې د ځنګد ن په مهال یو ډېره مهمه سپارښتنه او ریدلې وه: «زه ډېر خواشینی یم چې د بادي ژرندې له جوړیدلو نه مخکې مرم. تل دې وي د ځناورو نظام! ژوندی دې وي ستر لاربنود مانو! ستر لاربنود مانو تل ربښتیا وایي!» کلونه تیر شول او د فارم د ځناور ژوند مخ په کرغېړن کېدلو شو. د فارم لږعُمره ځناور څه له لوږې او تندې مړه شول، څه په جنګونو کې ووژل شول، او څه یې اعدام شول

پرته له یو شمیر ځناورو، د فارم نوي نسل ته له انقلاب نه وړاندې «انساني چټیات» هیڅ نه وو په یاد. شینا خوګ او شډل اس یواځیني ځناور وو چې نوي نسل پېژندل. چیلی بزه هم چې په زړو ډبرو کې به په یوه شوره وښو پسې لالهنده وه، د پښو د بندونو په درد اخته وه. سترګو به یې چخې نیولې وې، پچې او متیازې به یې نه شوې ټینګولی، او د تقاعد له عُمر نه یې دوه کلونه تیر شوي وو. لا تر اوسه یوه ځناور هم تقاعد نه و اخیستی. د خوګانو او سپیو شمیر ګڼ شوی و. د ځناورو د جمهوریت خوندور پیداوار لکه

هګیو، شیدو، او منو د خوګانو او سپیو د ممتازې پټې (قشر) د خوراک لپاره بسوالی نه کاوه. د خوګانو کار د نورو ځناورو په تنظیمولو او مشري کولو را څر خیده ، او د سپیو کار د ځناورو ډارول(امنیت) و. د ځناورو نوي نسل داسې معیار نه لاره چې په مرسته یې پخوانی ژوند د اوسني سره په تله کړي.

نوی نسل د ارګجه په واسطه داسي تلـقين شوی و چي د خــوګانو په سـياست به هـيڅکله نيوکـه نه کوي. په خــپله خوګانو به د انسانانو څيـرې پيـښې کـــولې: د محمدخـرګند خان کاکا د پخوانۍ مانۍ په غولي کي به پـه دوه پښو ګرځيدل، د هغه پخوانۍ جامي به بې اغـوستـلې،په مجلـو او ورځـپاڼو کي به يــي ګډون کاوه، او د انــسانانو ســره يي خپلـه راشـه درشـه زيـاته کــړې وه. « د ځــناورسـتان ځــناورو» تــرانه لـه منځه تـللې وه. د شړل شوي خوګ شـينا د دوري اووه (۷) احـکام چي د ګودام په لـوي ديـوال ليکل شوي وو، په يـوه ځـکم کي داسي رالنـډ شـول: «ټول ځناور مساوي دي، خوځيني ځـناور لـه نـــورو نه ډيـر مـساوي دي.» هرڅـه په بـدلون کي وو ، خو د ځناورو رمي پـــرې نـه پوهــيدلــې

## (ج) د يرغل خان په پرپره(دسيسه) چينارکوټ بدل شو

يوه اونۍ وروسته، شپږ تنه معتبر انسانان د ځناورو جمهوريت ته راغلل او د شپږو نامتو خوګانو سره يوځای د مـــيز په غاړه کښيناستل. خو ګانو د خپلو کرسيو په سيټونو کي د خپلو لکيو د پنډ والي په اندازه سوري جوړکړي وو ـ د دي لـپاره چي په کـــرسيو باندي د کښيناستلو په مهال پکي خپلي لکۍ ور ننباسي او د انسانانو سـره په ارام خبـرې وکـړي. مـانـو د ميز په سر کي ناست و. يوه انسان د ټولو ميلمنو په استازولی له «ښاغلو خـوګانو» نه مننه وکړه، بادي ژرنده يې وستايله او زياته يې کړه چي پــه راتلونکی کي به د « درنو خوګانو» او انسانانو تر منځ اړيکي لاپسي ښې شي. مـانو په شاته پښو ودريده، خپله لکۍ يي په خــپلو لينګيو کی پټه کړه او ميلمنو ته يي داسي وينا وکړه: « درنو ميلمنو! موږ خوګان په دي خوښ يو چي زمـوږ او ستاسي انسانانو تر مينځ ټولي پخوانۍ بدګوماني له منځه تللي دي. د خوګانو په مشرى به د ځناورو او انسانانو تر منځ اړيکي او متقابل اعتماد لاپسي کلکيږي. زه يو ځل بيا، ستاسي ټولو انسانانو د خبرتيا لـپاره اعـلانوم چي « د ځــناورو فــارم» او « دځناورو جمـهوريت» نـومونه له منځه تــللـي دي، او اوس زمـــوږځاي بيــرته ًچيـنارکـوټ ً نوميږي چي زموږ د ځاى لرغونى نوم د ی. د ما نـو وينا انسانان اريان کړل او په دي فکر کي يي ډوب کړل چي که له کومي لارې چينارکوټ په رسميت وپيژني

پخ ذهنو ځــناورو به کـله انسانانو او کلـه خـوګانو ته کـتل راکـتل او هـک پـک اريـان ووچـي څــه لوبـي پـــرې وشـــوې. ساده ځناورو خپل پيژاند (هويت) له لاسه ورکړی و او اوس ورته د خوګ او انسان تر منځ توپـير کول ډير ګران شـوی و، ځکه خوګان او سپي يي وليدل چي د انسان شيطاني مـغـــزو او لاسـونـو تــه په ګونده شوي وو. ټاکو او سوډر چي د چينارکوټ نوم واوريد، نو شونډکونه يي په يو بل ومښل او غوجل ته د پخوا په شان غـــبرګ روان شول. دواړو ته په لار کي د محمد خــرګـند خـان کـاکـا د ګل بڼ خيال ورپـه زړه شـو او پـه تشـه ګـيده پـه غـوجل کــــي پريوتل. محمد خـرګند خان کاکا چي د ځناورو د انقلاب له امله انساني ټولني ته کډوال شوی و، ډيربوډا شوی و او په چينارکوټ کي د خپلي واکمنـې پخواني ارمانونه يــي شړ شوي وو. د انسانانو شپږ کسيز هيأت د ځناورو د مشر مـانو دی پيغام ته پام شو چي «د ځناورو فارم» او « د ځـناورو جـمهوريت» خـپل ځــاى خـپل اصلي نـوم « چينارکوټ» ته پريښـی دی. د چينارکوټ نوم انسانانو ته د محمد خرګند خان کاکا نوم ور په زړه کړ چي د خوګانو له انقلاب نه وړاندي هلته واکمن و. د انساني ټولني قـدرتمند مشر چي يـرغل خان نوميده، محمد خـرګند خان کاکا ته وويل چي خپل چينار کوټ تــه به يــي د « دروند مـشر» په څير ستـون کړي او د ځناورو سره به يي پوخلا کړي. خـرګند خــان کا کا له خــوښی په جــامو کي نه ځـــايده او کړشوپـه خوله يي ګــوړې ګـوړې شــوه. د دي لپاره چي خرګندخان کاکا ډير خوښ وساتي، مکرجن يــرغل خان داسي ورزياته کړه: « په چينارکوټ کي به زما سرتيـتي نوکران قره قل خان، پـاګل خان، شيطان خان،اسلام فروش خان، وطنفـروش خان،چټي خان، قاچاق خان، پيسه ګل خان، جنايت خان، ګيلم جم خان، او تـالان خانِ خـودمختار ستاسي ښـه راغـلاست ته چمتو وي.» د عُمـر خوړلي محمد خر ګند خان کـاکا زړه په ټـوپـونو شو، په جامو کي نه ځاييـده، لاسونه يي ومښل او په خپل زړه کي به يي دځان سره ويل چي «خرګند خان بچيم لاترى ات بر آمده!» خو کله چي محمد خـرګند خان کاکا خپل پخواني چينارکوټ ته ورستون شو، په ځان پوه شو چي « تش مشر» (فيګرهيډ) دی او په انساني ټولنه کي د

کېوالی په مهال يې ټول ارمانونه اوس پنچر شوي دي. په چینارکوټ کې د محمد څرګند خان کاکا د ولس وضعه هم د يرغل خان دنوکرانو له لاسه ډېره کرغېړنه شوی وه. څرګند خان کاکا په خپلوکي پردی شوی و او خوګانو هم ورته په سپکه سترګه کتل. ځناورهم نور نه پوهېدل چي پخپله دوی څوک دي او څه غواړي. بس د يرغل خان په مټ، پاګل خان، شیطان خان، اسلام فروش خان، وطنفروش خان، چټي خان، قاچاق خان، پيسه ګل خان، جنایت خان، ګیلم جم خان، اوتالان خانِ خود مختار په دې بريالي شول چي د محمد څرګند خان کاکا له پخواني چينار کوټ نه خپل «چور اباد» جوړ کړي. محمد څرګند خان کاکا چي د يرغل خان او چورابادیانو په رمز پوه شو، په زړه کې به يې دا متل ګرځېده: خرته ور مکي نوکان...چي پرې وګريي ځان

يـرغل خان چي د چینارکوټ د يوه ګاونډي سره يې د فشار د لوبې په څېر ښې اړيکي پاللي، د ځناورو سره د ملاقات په مهال دیته متوجه شو چي د ځناورو مشران د انسانانو سره د مخامخ کېدنې په مهال، د خپلو لکيو د پټ ساتلو په کړاو اخته وو. له دېامله يې د ځناورو مشرانو ته وويل چي لکی به يې بې له درده غوڅي کړي او بيا به په اسانی سره په کرسیو کښيناستلی شي او په دې ډول به يې د نورو ځناورو سره توپير وشي! خوګان په دې وړانديز ډير خوښ شول او د يرغل خان په ملګرتيا ډاډمن شول. يرغل خان د خوګانو (د ځناورو د مشرانو) سره په بيلابيلو غرونو وګرځيد او ويې ليـدل چي هـرغر ځانګړي ډبــرې او کاني لـرل: شنه، سره، زيـړ... او اسماني رنګه. يرغل خان په دې پوهيده چي ځناور د خوراک،څښاک، خوب او خپل قـدرت سـره علاقه لري، نه د ګلاليو ډبرو او کانـو سره.

يرغل خان د ځناورو د مشرانو پام دیته راوګرځاوه چي د محمد څرګند خان کاکا فارم او سيبونه زاړه شوي او جنګونو او زولونو وهلي دي، او له دې امله د ځناور د امنيت لپاره مناسب نه دي. يرغل خان په پوره مهارت سره د ځناورو د مشرانو په زړونو کي د اندیښني زړي وکرل. سم د لاسه يې د ځناورو مشرانو ته وويل چي د دوستانو ( ځناورو) لپاره به په هر غر کي سمڅه جوړه کړي او د ځناورو هره ډله (سپي، خره، غويان، ګډې، بزې... او خوګان) به خپله بيله بيله سمڅه ولري، او په دې ډول به په اوري کي له لمر نه او په ژمي کي له واورو نه په امان په خپلو سمڅو کي ژوند کوي. چيلی په خپل زړه کي د يـرغل خان وينا ته د زړه له کومي هرکلی ووايه ځکه چي د خودمختاری زيری يې ورکاوه. له خوښی نه يې خپلي پچې نه شوې تم کولی. يرغل خان هم د چيـلی مخبری ته اړتيا لرله. يرغل خان پـه دې خبر و چي چيلی له پخوا راهيسي د چينار کوټ په شمال کي د «سـورخيـلو » د مشرانو سره هم ژمنه لرله او د خپلي ګټي لپاره به دهرچا په لوبې کي لکه اوبه بدليدله.

د يرغل خان زړه سواندتيا ځناور هک پک کړل. هغه ځناورو ته په داګه کړه چي د ځناورو د ښيګڼي لپاره به د دوی سره هر شل کالونه نوی دفاعي تړون کوي. د دې تړون له مخي به، د يرغل خان يو څوزره وسله والي قواوې د ځناورو سيمه ساتي او د نورو په مقابل کي به د دوی دفاع کوي. د دې خدمت په مقابل کي د ځناور مشرانو ډيره خوښي څرګنده کړه او شعار يې ورکړ چي «موږ د يرغل خان چوپړ ته چمتو يُو!» يرغل خان ورته وروسته له منني وويل چي که ځناور هغه کاني او ډبرې چي د دوی له غرونو نه راويستل شوي دي او د سمڅو مخه يې نيولې ده، په ريرو کي د سيند په غاړه کي ولاړو بيريو ته ورسوي، په يرغل خان به يې ډير احسان اړولی وي. دوه آسونه (شډل او ټاکو) او زوړ خر(سوډر) خوښ شول چي نور ځناور به هم د يرغل خان ريرې راکاږي. د دې لپاره چي د خوګانو د دفاع لګښت پوره کړي، يرغل خان دوهم شرط هم څرګند کړ: د ځناورو د غرونو په مينځ کي په پرته ځمکه کي به يرغل خان د يوې ګراني (قيمتي) ميوې زړي کري. پيداوار به يې په مساوي ډول ويشل کيږي. د دغې ميوې د غوټيو بې خونده او توربخنه څټه به ديرغل خان وي، او دغوټيو دننه داني داني وچه شوې ميوه به ديرغل خان ددوستانو(خوګانو) برخه وي. د يرغل خان عدالت، ځناور- دوستی، اوسخاوت بې عقله ځناور ډير حيران کړي وو.

## منلو لوستونکو

د دې ليکني له لوستلو نه وروسته، لطفا لاندې پوښتنو او نظريو ته خپل فکر زما سره شريک کړئ:

- ❖ (1) په دې ليکنه کي د افغانستان د کومو دولتونوځانګړني تمثيل شوي دي؟
- ❖ (۲) ولي نورو ښاروږو د خوګانو په واکمنی پسې پاڅون ونکړ؟

- (۳) په ټولنه کې مساوات او عدالت راوستل، دهیوادوالانو(اتباعو)مسئولیت دی که دواکمنانو؟
- (۴) ایا تاسي به خپل زوزات، زده کوونکو، او هیوادوالانو ته سپارښتنه وکړئ چي په پټو سترګو دي دچا اطاعت نکوي؟
- (۵) که یو واکمن دخپل ولس په فکر او کړاو نه وي خبر، څنګه به د ولس په دردونو وپوهیږي او غم به يي وخوري؟
- (۶) که زور او تبلیغات (پنډوري) د یوې ډلي یا یوه شخص په لاس کې وي، د ولس معلومات، شعور، او قضاوت به په کومه سویه وي؟
- (۷) آیا معلومات، پوهه او ذکاوت د انحصار له لارې غښتلی کیدلی شي، که د ازادو بحثونو او مطبوعاتو له لارې؟
- (۸) څوک چي ډیرقدرتمند وي، باید ډیر مسؤولیت ولري یالړ؟
- (۹) خوګانو په کوم دلیل د ځان لپاره امتیازونه ټاکلي وو، او د نورو ځارویو لپاره زیارونه؟

که د افساني د خوند او پند د غښتلي کولو لپاره ما ته کوم وړاندیز راولیږئ، په ما به مو ډیر احسان کړی وي.

## یـــادونـــه

زما دا لیکنه یو راپورټ دی چي لوستونکي یکي د بشپړو خوبونو د پلي کولو ترخي صحني ويني. ما د دي لیکني یوه غټه برخه په ۱۹۸۰کالونو کي د محَمد حسن ولسمل «مجاهد ولس» تـه او د محّمد طارق بـزګر«دعوت» اخبارونو ته د خپرولو لپاره لیـږلي وه. سریزه او ننتوځ يي نوي دي. دغه شان د لیکني وروستنۍ یعني «ج» برخه (د یرغل خان پرپړه) هم نوې ده او د ۲۰۰۱ په اکتوبر کي په افغانستان باندي د امریکي په بربنډ یرغل مي را څرخولي ده.

ز ما دا راپورټ اصلاً د انګریز لیکوال جورج اورویل په حکایت (دځناورو فارم، ۱۹۴۵زیږ) راڅرخي ـــ په هغه حکایت چي واقعاً پیښ شوی و او بیا لړ و ډیر په افغانستان کي کوپي شوی و. مایه دغه راپورټ کي خال خال د افغانستان د اته دیرش (۳۸) کلنو اوښتنو او کرغیرني وضعي په اړه خپل ُرچ مساله ورزیات کړي دي او پښتو نومونه مي پکي کارولي دي. دا کتاب د جورج اورويل لومړی ناول و چي د دوهمي نړی والي جګړي پوري يي د سټا لینیزم ترهه ګري پکي انځور کړی وه. پخپله جورج اورویل د دموکراتیک سوشلیزم پلوي و. د هسپانیي په داخلي جنګ (۱۹۳۶ تر ۱۹۳۹) کي يي د جنرال فرانکو په ضد او د جمهوریت په پلويتوب کوانده برخه اخیستي وه او پکي ټپي شوی هم و. نازي جرمني او فاشیستي ایتالیه د جنرال فرانکو په ملاتړ کي ولاړ وو. اوروېل ته د هسپانیي د ولس ساده او سمسمکي ژوند خوند ورکاوه. کله چي په دغه پاڅون کي د پخواني شوروي اتحاد د مشر (ستالین) نفوذ زیات شو، جورج اورویل له هسپانیي نه ووت او «د ځناورو فارم» يي ولیکه

George Orwell, Animal Farm, 1945

پای

قسمت اول این نوشته را به کمک لینک (آریانا افغانستان آنلاین) که در پایان است مطالعه فرمائید.

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Zirakyar_R/r_zirakyar_de_zenaawaro_faarm_01.pdf